سيستان په ختيځ کې لاندې کړ. په دې ډول د پارت امپراتوري په اروپا کې د روم د امپراتورۍ رقيبه شوه، چې د سلوکوس امپراتوري يې لاندې کړې او په خپله يوه لويه امپراتوري جوړه شوې وه، خو هرات او سيستان چې د مخزېږدې لومړۍ پېړۍ پورې د پارت د امپراتورۍ يوه برخه وه، له هغه وروسته د ګوندوفاريس (Gondophares) په مشرۍ خپلواک شو. دی چې په ختۀ ساکاو له سيستان نه تر اباسين نه اخوا پورې يې دغسې يوه لويه امپراتوري جوړه کړه، چې تر زېږدې درېيمې پېړۍ پورې پرځای وه، چې له هغه وروسته ساسانيانو لاندې کړه، د ساساني اردشير پاچا د پارتيه وروستۍ پاچا ارته بانوس په له مېنځه وړلو سره د پارتيه امپراتوري په زېږدي ۲۲۴ کې ختمه کړې وه[۹۴].

## د چين د لوی د ېوال بشپړېدل او په باختر باندې د هغه اغېزې:

په اصل کې دا د چين د لوی د ېوال بشپړېدل و، چې د يونان-باختري دولت د نسکورېدلو لامل شو. دغه دېوال د چين په نامه د واکمنې افسانوي مؤسس شهه هوانګ تي (Shih Huang Ti) په دوره کې په ۲۲۰ مخزېږدي کې بشپړ شو. "چينايان له ډېر پخوا نه د دفاعي دېوالونو په جوړولو معتقد شوي او په شمال-لويديځ



SABAWOON.COM

سرحدونو کې يې د بېر د ېوالونه درولي وو. شه هوانک ټي پاچا هغه ترميم او نور هم پياوړي کړل او له يوه بل سره ونښلول، چې ټول اوږدوالی يې څوارلس سوه ميله شو. دغه دېوال دغومره پراخ و، چې د سړک په ډول ترېنه کار اخيستل کېده او په ټول اوږدوالي کې يې د څارنې دغسې برجونه جوړ شول، چې د لندو دوه غشو په اندازه سره ليرې وو، په ورځ کې د دود په علامو او په شپه کې په رڼا سره د يرغلګرو خبر ورکول کېده. هغه د دغسې ستر ديوال لپاره د بزګرو، جنګي بنديانو، ګدايګرو، جانيانو او مريانو له بېګار نه استفاده وکړه. فکر کېږي، چې يو ميليون انسانان به د هغه په جوړېدلو کې تلف شوي وي.(٩٥) " د چين کورنۍ نه وروسته د هان کورنۍ واکمنه شوه او واکمني يې څلور پېړۍ اوږده شوه. د دېوال درولو اصلي موخه په چين باندې د مغلي پوونده قومونو د يرغلونو او ورانيو مخنيوی و. د هسيونګ نو ( Hsiung Nu) قوم چې وروسته په هونانو (Huns) ياد شول او د ترک-مغولي خلکو يو لوی پوونده قوم وا و په ختيځې سايبيريا کې اوسېدل، له هغه وروسته د لويديځ په لور مخه وکړه. دوی د مخزبېدې دربيمې پېړۍ په نيمايي کې سره يو موټي شول او د شان-يو (Shan Yu) په مشرۍ يې يو پياوړی ولس جوړ کړ(٩٦).

SABAWOON.COM